همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

افغانستان سره د آلمان همکاري

# د ښاري اوبو رسولو پیاوړي کول





## وضعیت

د ښښاک پاکې اوبه په افغانستان میشته خلکو د پاره یوه ارزښتناکه سرچینه ده. په داسې حال کې چې په هیواد کې د پاکو اوبو د رسولو په لاره کې یو څه پرمختګ شوی دی، د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) ریپوټ ورکوي چې د افغانستان د ښاري اوسیدونکو یوازې ۳۱ سلنه او د کلیوالي سیمو د خلکو شاوخوا ۵ سلنه د ښښاک منظمې اوبو رسونې ته لاسرسی لري. ګڼ شمیر افغانان لا تراوسه د چینو، کوچنیو رودونو د ویالو، د باران د اوبو د ټولولو د دودیزه سیستمونو، کورنیو څاګانو یا برمه شویو سوریو څخه د بمبو په واسطه خپلې اوبه په لاس راوړي. اوبه رسونه غیرمنظمه ده او د اوبو د لاسته راوړلو لګښتونه، د مثال په توګه د اوبو د ټانکونو څخه چې د خصوصي کسانو له خوا راوړل کیږي، ډیر لوړ دي. په کلیوالي سیمو کې پاکو او ارزانه اوبو ته لاسرسی ډیر محدود دی.

ډیرې زیاتې اوبه د څاګانو او کوروالو ترمنځ د پایپونو په شبکو کې د سوریو د شتون او د حد نه زیاتې کارونې او نورو تخنیکي ستونزو له امله ضایع کیږي. همدارنګه د نامناسبې کارونې یا د مخنیوونکو اقدامونو د نشتوالي په پایله کې نور فشار هم ژر د اوبو په سرچینو باندې زیاتیږي چې په یو شمیر سیمو کې د اوبو په ویشلو باندې د شخړو لامل ګرځي. افغانستان هم یو له هغو هیوادونو څخه شمیرل کیږي چې د اقلیم د بدلون له امله تر ټولو زیات متاثره کیږي.

## لنډه کتنه

| | |
|---|---|
| پروګرام | د کابل ښاري اوبه رسونه (۱-۳ پړاوونه)<br>د کابل ښار د فاضله اوبو مدیریت (پلان شوی دی)<br>په شمالي افغانستان کې ښاري اوبه رسونه (شمالي ښارونه ۱-۲) |
| دستور ورکوونکی | د آلمان د اقتصادي همکاریو او پراختیا فدرال وزارت (BMZ) |
| شریک | د افغانستان د ښارجوړولو او د کورونو د ودانولو وزارت<br>د افغانستان د اوبو رسولو او کانالیزاسیون شرکت |
| پلې کوونکی سازمان | د KfW پراختیایي بانک |
| ولایت | کابل، بغلان، بلخ، کندز، تخار، بدخشان |
| د پروګرام موخه | په کابل او په شمالي افغانستان کې د ټاکل شویو ولایتي ښارونو د ښښاک د لوړ کیفیت اوبو رسولو ته سمون ورکول او د کابل د بیلابیلو ښاري ناحیو دپاره د محلاتو سره مناسب د فاضله اوبو مدیریت د تکنالوژیو را په ګوته کول. |



د فاضله اوبو د مدیریت په اړه ډیرې نورې جدي ستونزې لیدل کیږي. زیاتې فاضله اوبه د پروسس نه پرته په مستقیمه توګه سندونو ته خوشې کیږي یا په خاوره کې زیښل کیږي. د ښښاک ناولې اوبو او نا پروسس شوې فاضله اوبه د خلکو پر روغتیا باندې ډیر زیات منفي اغیزه کوي او د راز راز رنځونو لکه کولرا او نس ناستې سبب ګرځي. کارپوهان اټکل کوي چې د ټولو رنځونو ۳۰ سلنه د ناولیو اوبو له امله منځته راځي. په ۲۰۰۶ کال کې، د کابل ښار د نړیوال بانک په مالي مرستې سره د فاضله اوبو د مدیریت د سمون دپاره لومړنی پلان تدوین کړ خو تر اوسه پورې پلې شوی ندی.

## موخه

په کابل او په شمالي افغانستان کې د ټاکل شویو ولایتي ښارونو د ښښاک د لوړ کیفیت اوبو رسولو ته سمون ورکول او د کابل د بیلابیلو ښاري ناحیو دپاره د محلاتو سره مناسب د فاضله اوبو د مدیریت د تکنالوژیو را په ګوته کول.

## اقدامونه او پایلې

د ۲۰۰۴ کال راهیسې، د KfW پراختیایي بانک د آلمان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د فدرال وزارت (BMZ) په استازیتوب زیارباسي چې په افغانستان کې خلکو د ښښاک پاکې اوبه ورسول شي. په کابل کې د اوبو رسولو او د فاضله اوبو د منجمنت د سمون په موخه د ودانیزو اقدامونو تر څنګ نوموړی بانک د هیواد په شمال کې په بیلابیلو ښارونو او ښارګوټو کې زیات شمیر پروژې هم پلې کوي. د کابل دپاره د فاضله اوبو د مدیریت د یوې نوې ستراتیژۍ د تدوینولو پلان هم جوړ شوی دی.

### د کابل دپاره اوبه



د کابل په څلورو ناحیو کې د ښښاک د اوبو نوې څاګانې ودانیږي چې په ورځ کې به ۱۱۱,۰۰۰ مترمکعبه اوبه ورسوي. د اوبو د راټولوونکو او نښلوونکو دپاره د نویو پایپونو په ودانولو، د پمپ سټیشنونو په پراخولو او د ښار په مرکز کې د اصلي او فرعي پایپونو د زغولو، او همدارنګ د موجوده بیخبنا د ځارنې او ساتنې او ترمیم له لارې د ښښاک د اوبو رسونې یوه عصري شبکه د جوړیدو په حال کې ده.

په کابل کې د اوبو د شبکې سره شاوخوا د ۶۷,۱۰۰ کوروالو نوې یا رغول شوې نښلونې

کې ده. ۲۱ نوي څاګاني اوس جوړې شوې دي چې اوسیدونکو ته د څښاک پاکې اوبه رسوي. هره ورځ شاوخوا ۵۴,۰۰۰ مترمکعبه اوبه اوس د کابل د اوبو رسوني په شبکه کې لیږدیدلای شي. د پروژې د پیل څخه راهیسې د اوبو رسوني د سیستم سره د نښلول شویو کورونو شمیر د ۱۰,۰۰۰ نه نږدې ۵۴,۰۰۰ ته رسیدلی دی. تر ۲۰۲۰ کاله پورې به د ووو ښاري ناحیو شاوخوا ۸۷,۰۰۰ نور اوسیدونکي د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی ومومي. برسیره پردې، د پایپلاینونو په سیستم کې د تخنیکي نیمګرتیاوو له امله د اوبو ضایعاتو کچه د ۷۰ سلنې څخه ۵۰ سلنې ته راټیټه شویده او په پام کې ده چې په راتلونکي کلونو کې ۴۰ سلنې ته نوره هم راټیټه شي. موخه دا هم ده چې تأمین شي چې د اوبو رسوني په نوې سیمه کې د اوبو په بهیر کې هیڅ ډول زیان او ځنډ شتون ونلري.

د کابل د څښاک د اوبو رسوني د سیستم پراخول د فرانسې د پراختیایي د ادارې (Agence Française de Développement (AFD او د امریکې د نړیوالې پراختیا د ادارې (United States Agency for International Development (USAID له خوا هم تمویلیږي.



د پایپلاینونو د سوریو له امله د اوبو ضایعات د ۷۰ سلنې څخه ۵۰ سلنې ته راټیټ شول

## د شمالي افغانستان په ښارونو کې د څښاک اوبو رسوني ته سمون ورکول

د شمالي افغانستان د بلخ ولایت د بلخ، د بدخشان ولایت د فیض آباد او د کندز ولایت د امام صاحب په ښارونو کې د څاګانو نوې سیمې جوړې شوي دي او د اوبو زیرمې، پمپ ستیشنونه او د ویشلو او رسولو شبکې ودانې شوې دي. د دغو شبکو سره د کورونو د نښلولو له برکته چې په دې ورستیو کې یې صورت موندلی دی، زیات شمیر اوسیدونکي اوس په خپلو کورونو کې د څښاک اوبو ته لاسرسی لري. هغه کسان چې د اوبو د شبکې د سیمې څخه بهر ژوند کوي خپلې اوبه د عامه نلونو څخه په لاس راوړي. د بغلان ولایت د پلخمرې، د تخار ولایت د تالقان، د بلخ ولایت د مزارشریف او د بدخشان ولایت د نوآباد ښارونو هم د اوبو نوي اتصالونه په لاس راوړل.



په شمالي افغانستان کې د اوبو د شبکو سره شاوخوا ۱۲۵,۰۰۰ نښلونې

## د پورتینو ودانیزو اقداماتو د مستقیمې پایلې په حیث لاندې د پام وړ اغیزې په لاس راغلې دي:

- د بلخ په ښار کې، د اوبو د شبکې سره د ۷۶۴ کورونو نښلول او شپږ عامه نلونه تمویل شوي دي چې شاوخوا ۹,۵۰۰ تنو ښاریانو ته د څښاک پاکې اوبه رسوي. د څاګانو ودانول او د اوبو د ساتلو د ظرفیتونو او د ویشلو د شبکو پراخول هم د شاوخوا ۳۶,۰۰۰ تنو اوسیدونکو دپاره پاکو اوبو ته د لاسرسي موندنې بنسټونه منځته راوړل.
- په امام صاحب کې، ۱,۸۰۰ کورونه د اوبو رسوني د شبکې سره نښلول شوي دي او شپږ عامه نلونه تمویل شوي دی چې د ۲۰,۰۰۰ نه زیاتو ښاریانو ته د څښاک اوبه رسوي.
- د اوبو نوي اتصالونه په پلخمرې کې د ۳۸,۰۰۰ تنو، په تالقان کې د ۱۳,۰۰۰ تنو او په مزارشریف کې د ۴۵,۰۰۰ تنو دپاره د څښاک اوبو ته لاسرسی برابر کړی دی.
- په فیض آباد کې د ۳,۵۰۰ کورونو د نښلولو او ۴۱ عامه نلونو پلان د جوړیدو په حال کې چې په پایله کې به ۸۵,۰۰۰ تنو ښاریانو ته اوبه ورسول شي.

د ۲۰۰۴ کال راهیسې په ټولیزه توګه، شاوخوا ۱۲۵,۰۰۰ د اوبو نښلونې (د کورونو نښلونې او عامه نلونه) رغول شوي یا نوي ودان شوي دي.

## په کابل کې د حفظ الصحې سیستم ته سمون ورکول

د KfW پراختیایي بانک د افغان حکومت سره په کابل کې د فاضله اوبو د منجمنت او کانالیزاسیون د یوه ماسټرپلان په تسویدولو کې مرسته کوي. په دې کار کې د ۲۰۰۶ کال موجوده پلان په بنسټیزه توګه بدلون مومي، هغه ته د اوسنیو اړتیاوو سره سمون ورکول کیږي او لمنه یې د پلې کولو، عملیاتو او څارنې او ساتنې برخو ته زغول کیږي، او اړین نهادي ظرفیت جوړیږي. د ماسټرپلان د طرح کولو لړۍ په ۲۰۱۷ کال کې پیل شوه. د دغه پلان اړونده نیمایي لګښت به د افغان حکومت په غاړه واخلي. د دې لپاره چې دغه نوې طرحه چې د ځلا ځلا ښاري ناحیو دپاره د فاضله اوبو د ځانګړیو او غیرمتمرکزو تکنالوژیو پر بنسټ ولاړه ده، په اغیزمنه توګه پلې شي د افغان حکومت او ځوملیتي مرستندویو لوریو تر منځ هراړخیزه همکاري ته اړینه لیدل کیږي.

**د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ میاشت**

اړیکه:

**ډاکټر اندریاس شنایدر**
په کابل کې د KfW د پراختیایي بانک د دفتر مشر
ایمیل: andreas_2.schneider@kfw.de

پلې کوونکی:
Implemented by
Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH